# د لویو ډبرو لرونکو ځایونو کې د کب نیولو پر مهال خوندي اوسئ –

# Kitty Miller Bay

## څنګه کولو شو له لویو ډبرو څخه خوندي کب نیونه وکړو

د لویو ډبرو لرونکو ساحو څخه کبان نیول او راټولول د کب نیولو او د بهر ساحو څخه د خوند اخیستلو عالي لارې دي مګر خطرناکه کیدی هم شي.

له لویو ډبرو څخه د کب نیولو یا راټولولو پرمهال د خوندي پاتې کیدو لپاره 4 ساده لارې شتون لري:

1. له تلو څخه دمخه چمتووالی ونیسئ
2. رسیدو سره سم ساحه وګورئ
3. د کب نیولو پرمهال محتاط اوسئ او
4. تل ژغورونکی جاکټ واغوندئ.

## څه باید وکړل شي که یو څوک اوبو کې لاهو شي

که چیرې یو څوک په بحر کې لاهو شي پدې پوهیدل مهم دي چې په داسې وخت کې څه باید وکړل شي.


1. مه وارخطا کیږئ - ارامه اوسئ او په لامبو کولو سره له لویو ډبرو څخه لرې لاړ شئ.
2. که یو څوک په اوبو کې لاهو شي نو اوبو ته ټوپ مه وروهئ، په ځای یې،
3. هغه کس ته یو پړی یا یو داسې څه چې په اوبو کې نه ډوبیږي، د یو ژغورونکی جاکټ په شمول که شتون ولري، ور وغورځوئ بیا،
4. د خپل ګرځنده تلیفون څخه 000 یا 112 ته زنګ ووهئ یا د مرستې په موخه د نورو خلکو موندلو لپاره لاړ شئ.

## د ډوبیدو لوړ خطر لرونکې ساحې؟

ډیری خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی ځکه چې دوی په ویکټوریا کې د لویو ډبرو لرونکو ساحو څخه د کب نیولو یا راټولولو پرمهال په اوبو کې غورځیدلي دي.

د کب نیولو پر مهال د لا نورو مړینو مخنیوي لپاره، هر هغه څوک چې د لوړ-خطر لاندې ټاکل شوو ساحو کې کبان نیسي یا ورڅخه یې راټولوي، **باید** یو ژغورونکی جاکټ واغوندي.

### Kitty Miller Bay, Phillip Island




په هر صورت، که تاسو په کوم لویو ډبرو لرونکي ساحه کې یاست، نو که تاسو کبان هم نه نیسئ، VFA تاسو هڅوي چې یو ژغورونکی جاکټ واغوندئ.

## نور معلومات

د لوړ خطر ساحو او په لویو ډبرو لرونکو ساحو کې د کبانو نیولو پرمهال خوندي پاتې کیدو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، په ژبو کې د معلوماتو په شمول، مهرباني وکړئ د VFA له ویب پاڼې څخه په: vfa.vic.gov.au/rockfishing لیدنه وکړئ یا بنې لور ته QR کوډ سکین کړئ.

VICTORIA State Government

We're hooked on SAFETY

# په لویو ډېرو لرونکو ځایونو کې د کب نیولو پر مهال خوندي اوسئ

## زه کوم ډول لایف جاکټ ته اړتیا لرم؟

ستاسو لایف جاکټ باید د آسټرالیایي معیار (AS 4758) سره مطابقت ولري او باید وي:

- د 50S په کچه/اندازه یا ورڅخه لوی لایف جاکټ
- ستاسو په سمه اندازه
- په ښه توګه کارکونکی وي. ډاډ ترلاسه کړئ چې د تړلو کلپونه یې کار کوي او پټۍ یې خوړل شوې نه وي.
- په سمه توګه اغوستل شوی وي چې ټول زپونه، د تړلو کلپونه او پټۍ یې په سمه توګه خوندي شوي وي
- په منظمه توګه سروس شوی.

هغه لایف جاکټونه چې یوازې د پرسیدلو خوله لرلو باندې تکیه کوي نشي کارول کیدی.

## ایا ماشومان لایف جاکټ ته اړتیا لري؟

هو، ستاسو تر څارنې لاندې هر ماشوم باید لایف جاکټ واغوندي حتی که دوی کبان هم نه نیسي.

د ماشومانو لایف جاکټونه باید:

- د آسټرالیایي معیار سره مطابقت (AS 4758) ولري او
- د 100 کچې لایف جاکټ یا ورڅخه لوی وي.

## د ځوانانو لپاره مناسب لایف جاکټونه

| | |
|---|---|
|  | 100 کچه<br>(1 ډول) |
|  | 50 کچه<br>(2 ډول) |
|  | 50S کچه<br>(ډول 3) |

## د ماشومانو لپاره مناسب لایف جاکټونه

100 کچه (1 ډول یا لوی)






VICTORIA State Government

We're hooked on SAFETY